
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

م ـ کتوازی ۲۰۲۶/۱۱/۲۰

ویاړنې ،لاسته راوړنې او قدردانۍ



دنومیالي تاریخپوه ،دعلمی ،تاریخي اوفرهنګي هڅو اوهستي تلپاتي یاد اوقدرداني !

درووند مورخ ځېړنیز ارزښتناک اثر چې ښاغلي داکتر حسن بارک شاغاسي لیکنه اوخپرنه ده ،په ۱٤۰۵ لمریزکال د نشر پرند خپرندوی ټولنې لخوا د (۱۰۰۰)ټوکونو په شمېر په ښکلي قطع اوصحافت چاپ شوی ،مبارک دي وي.

د افغانستان د نومیالي تاریخپوه، علمی اوفرهنګي شخصیت،کاندید اکاډمیسن محمداعظم سیستاني د ژوندپېښو ، علمي او تاریخي اثارواو خدمتونو پېژندنه اودنومورۍ داثارو معرفی اوله هغو ګټه اخیستنه دلوستوالو ،لیکوالواوخپرونکو لپاره ډېره مهمه اولومړی لاس اخځلیکونه اوسرچینې ښودل کېږی .

په دې مغتنیم اثر محترمو استادانو ! محترم اکادمیسین داکتور سید محي الدین هاشمي ـ محترم پوهنمل شېرشاه رشاد ـ اومحترم عبدالا حد سرتیپ ښکلي تقریظونه لیکلي اوپه هغو کې دنومیالي تاریخپوه، پیاوړي لیکوال ، خپرونکي اوفرهنګپال شخصیت ،په تاریخي ،علمي ،اوفرهنګي اثارو اوارزښتناکو خدماتو بحث کړي ، هغه یې په قدردانۍ یاد اوستایلي دی.

ددې وزین اثر دارزښتناک تقریظ،چې ښاغلي استاد اکادمیسین داکترسید محي الدین هاشمي لیکلی ،په یوه برخه کې داسي راغلي : «... کاندید اکادمیسین استاد محمداعظم سیستانی زمونږ دمعاصرتاریخ له همدغسی پیاوړو علمي ،فرهنګي ګڼ اړخیزوشخصیتونوڅخه دی،چې : عالم هم دی اومعلم هم ،تاریخپوه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هم دی،وګړ پوه اوسیاست پوه هم ،ټولنپوه هم دی ،اوجغرافیه پوه هم ،په دغو برخوکې یې په دې تېروپنځو ،شپږو لسیزو هېواد اوخلکو ته په علمي اوفرهنګي ډګر کې دیو پیاوړی نوماندلیکوال ،څېړونکي اومورخ په حیث ترپنځوسو زیاتو علمي ،تاریخي ،جغرافیوی اونور ډول ،ډول کلتوري اوعامو ځانګړو معلوماتي چاپ شویوکتابونواودسلګونو مقالو په لیکلو چاپ اوخپرولوپې زمونږ دهېواد دعلمي ،فرهنګي بډاینې له پاره دیادونې اوستاینې وړ خدمتونه کړي اولا اوس په دې زړبوډۍ کې هم په دغه علمي ،فرهنګي خدمت بوخت اود یوحقدار لیکوال اومورخ په حیث دهېواد دننه او بهر له لوړ نوم اوشهرت څخه برخمن دی. » په همدې ترتیب دوی دیاداثر لیکوال ښاغلي شاغاسي دا ارزښتناک خدمت اوکار په زړه پورې ګڼلې او ستایلې دی.

پدې څېړنیز اثرکې دنومیالي مورخ ،لیکوال ،څېړونکي اوفرهنګپال ،محترم استاد کاندید اکادمیسین محمداعظم سیستاني صاحب دهغو ارزښتناکو کتابونو اواثارو ،رسالو اومقالو شمېرې چې دافغانستان دعلومو اکادمی لخوا ،اوله هېواده بهر په سویډن اوجرمن انلاین کې چاپ اوخپرې شوي ،د هر اثرځانګړني اومنځپانګه په لنډیز سره معرفی شوي ،دهغو انځورونه یې هم ورسره مل کړي دي، چې بې له شکه دمحترم لیکوال ارزښتناک کاراو پخپله برخه کې یو نوښت ګڼل کېږي .

دا څېړنیز اثر په دریو څپرکو کې لیکل شوی،چې هرڅپرکی ځانګړي سرلیکونه لري ،لومړی څپرکی دمحترم دکاندید اکادمیسین محمداعظم سیستاني زوکړه ،زده کړي اودندي اوپه دوهم څپرکي کې دمحترم استاد سیستاني اثار او افکار چې تر(۵۰) زیات اثاراوکتابونه یې په ترتیت سره معرفي شوي ـ اوپه دریم څپرکي کې دمحترم استاد دتاریخي ، علمي ،اوفرهنګي ارزښتناکو خدماتو په اړه دقدرمنو پوهانو ،لیکوالو اودرنو څېړونکو نظرونو ستاینو اوقدردانیو ته ځانګړی شویدی .

ددې کتاب یوه مهمه ځانګړنه دا ده ،چې د یوه نومیالي مورخ ، علمي اوفرهنګي شخصیت د ژوند او اثارو د پېژندنې په مختلفو اړخونو یې اسناد، لیکنې او څېړنیز مواد راټول کړي ،چې دګرانو لوستونکو، درنو لیکوالو ،قدرمنوڅېړونکو ،اودکتاب محترمومینه والو لپاره یو ښکلې اخځلیک اوددې کتابونو څخه دګټې اخیستنې لارې چارې اسانه کړیدی .

محترم حسن بارک شاغاسي ته یو ځل بیا ددې ارزښتناک علمي او فرهنګي نوښت مبارکي وایو. کور دې ودان وی ، چې داستاد په ژوندانه یې دنومړي حق اداکړي ،په قلم اوژوند دې برکت وي . باید یادونه وکړو ،چې دا دځوان هېوادپال نسل ،دنده اورسالت بلل کېږي ،چې دخپل ګران وطن له حماسو او ویاړونو ډک تاریخ اوملی ارزښتونه مطالعه،دملی او نومیالیو شخصیتونو ، مشاهیرو ،اتلانو اوفرهنګپالو له حماسه جوړونکوکارناموا ویاړونو په ښه ډول خبر شي .

اوپه پای کې هیله لرو ،چې دګران هېواد پیاوړي اوقدرمن لیکوال ،څېړونګي ،ادیبان ،اوفرهنګپال (ټول مینه وال ښاغلي او آغلې) پدې ویاړلي لاره کې اغېزمن او ارزښتناک ګامونه اوچت کړي .

دبریاووپه هیله !

ټول خوښ او ویاړمن اوسئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ